# سیرتِ بلال حبشی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

19-September-2019



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **اللّٰہ** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاوٰی شامی**" کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکۡرُ اللہ اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د درود شریف فضیلت

حضور نبي رحمت شفیع اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے چه چا د قرانِ پاك

تلاوت اوكړو او د **ربّ** كريم حَمْد ئے بيان كړو او بيا ئے په نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے درود شريف اولوستلو او د خپل **ربّ** نه ئے بخښنه اوغوښتله نو يقيناً هغه ښيګړه د خپل خائے نه او لټوله.( درمنثور، پ۳۰، ذکر دعا ختم القران،۸/ ٦٩٨)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

هر نيك او جائز كار كښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدو نيتونه

[نِيَّت اوكړئ چه] نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چه څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شكل كښے] كښينم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه كولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزيږم ☆ كه د چا په دِيكه وغيره اولګيدم نو د بد بد كتلو، رټلو او بحث كولو په ځائے

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)

به صبر کووم. ☆ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب، اُذْكُرُوا الله، تُوبُوا اِلَى الله وغیره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندے جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښے کیږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** هسے خو ټول صحابه کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن خپلے خپلے مرتبے لري خو په دے مبارکو هستو کښې حضرت سیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته یو خاص مقام او مرتبه حاصله ده، هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د اسلام د پاره ډیر تکلیفونه برداشت کړي دي. د الله يَره، عشقِ رَسُول، تقويٰ او پرهیزګاري، عبادت و ریاضت، کرامت و شرافت و استقامت، عاجزي و انکساري او حُسنِ اخلاق دا ټول صفتونه د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په ذات کښې موجود وو. د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مقام او مرتبه دا ده چه بعضے وخت زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمْ د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فضائل بیان کړي دي. د نن په بیان کښې به مونږه د هغوئي تذکره، مختصر تعارف، فضائل او خاص طور د هغوئي په ایمان باندے د استقامت او د عشقِ رَسُول نه ډك واقعات اورو. کاش چه مونږ ته ټول بیان ښو ښو نیتونو سره د اوریدو توفیق رانصیب شي. راځئ چه د ټولو نه مخکښے د بلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یوه واقعه واورو چنانچه،

# د حضرت سَیِّدُنا بلال آزادي

حضرت سَیِّدُنا عُروه بن زُبیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل پلار نه روایت کوي چه یوه ورځ وَرَقه بِن نَوفَل (چه هغه د اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا خَدِیجه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د ترهٔ ځوئ وو ) د حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خوا تیریدلو چه هغوئي (د اسلام قبلولو په وجه) [اُمَیَّه بِن خَلَف] وهلو او په داسے حال کښې هم هغوئي اَحَدٌ اَحَدٌ یعني اللّٰه یو دے اللّٰه یو دے وئیلو. وَرَقه بِن نَوفَل چه [دا حال] اولیدلو نو اُوئے وئیل: اے بلال! رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هم دغه رنګے د **اللّٰه** نوم اخله. بیا اُمَیَّه بن خَلَف ته مُتَوَجِّه شو او ورته ئے اُووئیل: قَسَم په خُدائے! که چرے ته دوئي په دے خبره شهید کړے نو زه به د رحمت او برکت حاصلولو د پاره (د دوئي مزار) جوړوم. یوه ورځ اَمیرُ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خوا تیریدلو او هغوئي د حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره هم هغه عمل کولو نو حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُمَیَّه بن خلف ته اوفرمائیل: د دے بے وسه په باره کښې ته د **اللّٰه** نه نه یَریږے. تر څو به ده ته تکلیف ورکوے؟ اُمَیَّه ورته اووئیل: چه تاسو دا بے لارے کړے دے، اوس ئے د دے تکلیف نه هم خلاص کړئ کوم چه تاسو وینئ. نو حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته اوفرمائیل: چه ما سره د بلال نه زیات صحت مند او طاقتور غلام شته د ے، بلال ما ته راکړه او هغه ته واخله. هغه اُووئیل: چه ما ته منظوره ده نو

حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُمَیَّه ته خپل غلام ورکړو او حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ئے ترینه واخستو او آزاد ئے کړو. (حلیة الاولیاء بلال بن رباح ۱/۱۹۹ رقم: ٤٨٦)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

اے د صحابه کرامو عاشقانو! تاسو واوریدل چه حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ باندے د **اللّٰه** په لاره کښي څومره تکلیفونه تیر شوي دي، خو بیا ئے هُم باطِل ته سر ښکته نه کړو، لکه د هغه **اللّٰه** والؤ چه دا حال وو چه که سر را نه کټ کیږي نو کټ دِ شي. که ژوند مے ختمیږي نو ختم دِ شي خو نه به دینِ اسلام پریږدم او نه به باطِل ته سر ښکته کړم. د هغوئي دا عمل مونږ ته دا سبق راکوي چه که د **اللّٰه** په لاره کښي را نه هر څه لاړ شي نو لاړ دِ شي خو د حق ملګرتیا نه دي پریښودل پکار. او په هِمَّت او بهادرئ سره د باطل مقابله کول پکار دي. داسے خلقو ته که په دنیا کښي هیڅ بدله هم ملاو نه شي خو یقیناً آخرت به ئے ښائسته شي او د اللّٰه تعالٰی د بارګاه نه پرے نعمتونه او کرامتونه راوریږي. حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ تر اخرینۍ ساه پورے اخلاص او استقامت سره دینِ اسلام باندے ثابت قدمه ولاړ وو، د **اللّٰه** په لاره کښي خپل مرګ ته تیار وو خو په اخلاص او استقامت کښي ئے یوه ذره فرق هم رانغے، د دینِ اسلام قبلولو په وجه ئے مظلومانه ژوند تیرولو نه باوجود کله په خُله شکایت نه دے کړے او بل طرف ته مونږه د عاشق رسول کیدو دعوئ کوونکي

معمولي شان تکليف راتلو باندے شور او غَوغا جوړه کړو. که معمولي شان تکليف راباندے راشي نو بے صبري کوو، لږ سوچ خو اوکړئ! چه د دومره تکليفونو تيرولو باوجود هم د حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د حال نه دا واضحه ده چه زما ژوند خو ختميدے شي خو کَلِمه نه شم پريښودے. لِـهذا مونږ ته پکار دي چه د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په سيرت باندے عمل اوکړو. د هغوئي قربانو ورکولو نه ډک واقعات اولَولو او د هغوئي تذکره کولو باندے خپل ايمانونه تازه کړو. راځئ چه د هغوئي په ايمان باندے د استقامت نور واقعات اوريدلو نه مخکښے د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ **مختصر** تعارُف واورو: چنانچه

## مختصر تعارف

* حضرت سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د **بَنِي جُمَحَ** قبيلے غلام وو د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نوم بلال، د پلار نوم ئے رَباح او د مور **محترمے** نوم ئے حَمامه وو . (حِلیَۃ الاَولیاء بلال بن رباح، ج۱ ص۲۰۰ ملخصاً)

* د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ کُنيت ابو عبدالله، ابو عبد الکريم، ابو عبد الرحمٰن او عمرو حبشي وو. (الاستیعاب فین معرفۃ الاصحاب، رقم: ۲۱٤ بلال بن رباح، ۱/ ۲۱۸)

* هغوئي د مُـؤَذِّنِ رَسُول او سيِّدُ الـمُؤَذِّنِين په القابو مشهور وو. چنانچه حضور نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چه بلال يو ښه انسان او د مُـؤَذِّنينو (يعني د اذان

کوونکو ) سردار دے. (معجم کبیر،۲۰۹/۵حدیث:۵۱۱۹)

* د هغوئي شمیر اسلام قبلوونکو وړومبنو سعادت مندو کښي کیږي.(صفة الصفوة،۲۲۷/۱ ماخوذا) * حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ تنهائے کښي عبادت کوونکے، ډیر مهربانه او سخی، او د اَمیرُالْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیقِ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اذاد کړے غلام وو. * هغوئي ته د اسلام قبلولو په وجه ډیر تکلیفونه ورکړے شوي وو. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خازِن ( یعني خزانچي) وو. هغوئي حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مَحَبَّت کوونکے، د نیکۍ په کار کښي وړاندے وړاندے، او د **ربّ** کریم په ذات باندے کامل یقین لرونکے وو. (حِلیَۃُ الاَولیاء،بلال بن رباح،۱۹۹/۱)* هغوئي په اسلام کښي ریښتونے او پاکیزه زړه لرونکے وو. * د ماسپښین په وخت کښي به چه کله ګرمي ډیره زیاته شوه نو اُمَیَّه بِن خَلَف به هغوئي بهر را اویستلو او د مکے په شګه به ئے څملولو او غټ کانړے به ئے را اوغوښتو او د هغوئي په سینه باندے به ئے کیښودو. خو حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به په دے سخت مصیبت کښي د اخته کیدو باوجود هم د **اَحَد اَحَد** یعني **الله** یو دے **الله** یو دے نعرے وهلے. (حِلیَۃُ الاَولیاء،بلال بن رباح،۲۰۰/۱)

* د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ وصال سن 20 هجري کښي شوے وو. (ابن عساکر،رقم:۹۷٤،بلال بن رباح،٤٤٥/۱)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډیر صبر کوونکے او وفا کوونکے، د اسلام حقیقي ترجُمان، اسلام سره مَحَبَّت کوونکے، د اسلام د پاره تکلیفونه برداشت کوونکے، او د اسلام د پاره خپل ځان قربانوونکے وو. راځئ چه د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ایمان باندے د استقامت واقعه واورو: چنانچه

## د اسلام حقیقي ترجمان

حضرت سَیِّدُنا عمرو بن عاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: چه یوه ورځ زه د بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خوا تیریدم، نو [اُمَیَّه بِن خَلَف] هغوئي په ګرمه زمکه څملولے وو او سزا ئے ورکوله. (ګرمي دومره زیاته وه) چه که چا په زمکه باندے د غوښے یوه ټکړه کیښودے وے نو هغه به هم پخه شوے وے خو په داسے حال کښي هم د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ژبه باندے دا کلمات جاري وو چه د لات او عُزّیٰ خدائي نه منم. بدبخته اُمَیَّه بِن خَلَف چه دا واوریدل نو د هغوئي سزا ئے نوره هم زیاته کړه. او د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مرئ ئے دومره زور کړه چه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بے هوشه شولو. (سبل الهدي والرشاد، جماع ابواب بعض الامور..الخ، الاباب الخامس عشر في عدوان المشركين..الخ، ۲/۳۵۷)

## د ایمان اَهَمِّیَّت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرتِ سَیِّدُنا بلال حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خپل ایمان باندے څومره مضبوط ولاړ وو، کاش چه مونږ ته هُم صحیح معنو کښے د ایمان د

حفاظت فِکر نصیب شي. یاد ساتئ! نن صبا ډیر داسے کارونه کیږي چه د هغے په وجه ایمان بربادیږي. مَثَلًا سندرے اوریدل، دا هسے هُم ګناه ده خو په دے کښے بعضو سندرو کښے کُفرِیه شعرونه شامل وي او بعضے نادانه خلق ورسره شونډے هُم خوزوي او د دِیني معلوماتو د کمي په وجه هغوئي خبر هُم نه وي چه دا کُفریه شعرونه دي، هُم دغسے چه کله څه غم یا مصیبت پیښ شي، مَثَلًا څوك ځلمے په حق اورسي یا ناڅاپه څه حادِثه اوشي نو بعضے نادانه خلق داسے کِیلے قیصے شروع کړي چه هغے سره ایمان بربادیږي. هُم دغسے بعضے نادانه خلق د غیر مُسلمو رسم و رواج کے دومره مخکښے لاړ شي چه د هغوئي مذهبي ورځے مناووي [یعني د هغوئي اختر وغیره] او خبر نه وي چه دے سره ایمان بربادیږي.

الله پاك دِ زمونږه په حال رحم و کرم اوفرمائي اور مونږ ته دِ د ایمان د سلامتئ فکر رانصیب کړي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د حضرتِ سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په ایمان باندے د اِستِقامت په باره کښے بیان اوریدلو، راځئ چه هم دے باره کښے نور بیان واورو.

## په ايمان باندے استقامت

دا هُم منقُول دي چه بعضے وخت به غير مسلمو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ اوتړلو او ماشومانو ته به ئے حواله کړو او ماشومانو به هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د مکے په کوڅو کښي راښکلو خو د دے باوجود به هُم د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ په ژبه اَحَداَحَد يعني الله يو دے الله يو دے جاري وو. (مصنف لابن ابي شيبة، كتاب الفضائل، باب في بلال و فضله، ۵۳۷/۷ حديث:۱، ملتقطا)

**اے د بلالِ حبشي عاشقانو!** تاسو واوريدل حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ دينِ اسلام سره څومره محبت لرلو، هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د دينِ اسلام د پاره ځان قربانولو ته هم تيار وو، د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د ژوند اصل مقصد هم دا وو. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د خپل کردار په ذريعه تر قيامته پورے راتلونکو مسلمانانو ته اوښودله چه يو مسلمان ته دينِ اسلام سره او خپل نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څنګه محبت پکار دے. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د خپلو خواهشاتو، مال او اسباب، اولاد او نزدے خپلوانو تر دے چه د خپل ذات نه هم زيات د الله و د هغه د حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کولو او دا محبت ئے هميشه د پاره په خپل زړه کښے اوساتلو، د دے په نتيجه کښي د هغوئي په دے عمل باندے رسولِ خُدا مکّي مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشحاله شو او په ډيرو موقعو باندے ئے د هغوئي تعريف او صفت اُوفرمائيلو. او [د معراج په شپه ئے] په جَنَّت کښي د خپل غلام د ښپو ښکالو [يعني آواز] هم واوريدلو: چنانچه

## د ښپو ښکالو [يعني آواز]

د معراج په شپه د جَنَّت د سيل په دوران کښي نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جَنَّت کښے

د چا د ښپو ښکالو [یعني آواز] واوریدلو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اووئیلے شو چه دا د بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ښپو آواز دے. (مشکوة المصابیح، کتاب المناقب، باب مناقب عمر، ۲/ ۶۰۳۷، الحدیث: ملتقطا)

سُبْحٰنَ اللهِ ! د حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ شان نه قربان! چه خوږ نبي د مدینے جانان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې د ښپو کشارے په جَنَّت کښې اوري، هغوي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته دا مرتبه په وجه ملاو شوه، راځئ چه واورو: چنانچه

## جَنَّت ته بوتلونکے عمل

حضرت سَیِّدُنا بریده رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه یو سحر نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د خوب نه] را بیدار شو نو حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته ئے اوفرمائیل: چه اے بلاله! څه څیز ته زما نه مخکښې جَنَّت ته بوتلے؟ نن شپه زه جَنَّت ته داخل شوم نو ما د ځان نه مخکښې ستا د ښپو آواز واوریدلو. نو حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو : چه **یارَسُولَ الله** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه (د اودس کولو نه پس) همیشه دوه رکعاته کووم بیا اذان کووم او چه کله بے اودسه شم نو فورا اودس کووم نو رحمت عالم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: (ښه) هُم دا وجه ده. (ترمذي، کتاب المناقب، باب في مناقب ابي حفص...الخ، /، حدیث: ملتقطا)

اے د صحابه کرامو عاشقانو! تاسو واوریدل چه سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د نفل **لمونځ** څومره جذبه لرله، چه کله به ئے هم اودس اوکړو نو دوه رکعاته **تَحِیَّةُ الْوُضُو** به ئے ادا کول. او بل طرف که مونږه خپل کردار ته اوګورو نو زمونږ دا حال دے چه نفل څه چه بعضے خلق فرض او واجب **لمونځ** کښې هُم سستي کوي، دوستانو سره په فضولو خبرو کښې وخت ضائع کوو خو **لمانځه** د پاره جمات ته د تللو وخت راسره نه وي. د

واده دعوت ته دوه ګینټے مخکښے رسیږو خو لـمانځه د پاره لس منټه مخکښے د تللو وخت راسره نه وي.

مونږ ته غور کول پکار دي چه مونږ چرے د خپل ژوند مقصد خو نه دے هیر کړے؟ او چرے شپے او ورځے خو د حُقُوقُ الله په خلاف ورزئ کښے نه تیروو.

یاد ساتئ! د ایمان او عقائدو صحیح کیدو نه پس لـمونځ په حُقُوقُ الله کښې د ټولو نه زیات اهم فرض دے. چنانچه فتاویٰ رَضَوِیَّه جلد **9** صفحه **158** او **159** کښے دي چه :د ایمان او تصحیحِ عقائد (یعنی د ایمان او صحیح عقائدو تسلیمولو) نه پس جُملهحُقُوقُ الله کښې د ټولو نه زیات اهم او اعظم لـمونځ دے.

لـمونځ قضا کوونکي به د قیامت په ورځ دردوونکي عذاب سره مخامخ کیږي، چنانچه

## د بیلـمانځه سزا

خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے چه د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکښے د لـمونځ پرېښودونکو مخونه تور شي او بیشکه په جَهنَّم کښې یوه کنده ده چه هغے ته لَمْلَمْ وائي، په هغے کښې ماران دي او هر مار د اوښ همره دے او د هغے اوږدوالے د یوے میاشتے د فاصلے همره دے، چه هغه بیلـمانځه کس اوچیچي نو د هغے زهر به اویاؤ کالو پورے د هغه **په بدن کښې خوټکیږي، بیا به د هغه** غوښه اورژیږي او هډوکو نه به جُدا شي. (کتاب الکبائر، فصل في المحافظه علي الصلوات و التهاون بها ص ٢٦)

**اے عاشقانِ رَسُول!** د **الله** پاك نه ډیر یَریدل پکار دي، د غفلت د خوب نه را بیدار شئ او د اوس نه د لـمونځونو پابندي شروع کړئ بلکه **تَحِيَّةُ الْوُضُو** او نور نفلونه هم

پابندئ سره د کولو نِيَّت اوکړئ، راځئ چه خپل ذهن د نفلي لـمونځونو پابند جوړولو د پاره درے فرامينِ مصطفي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو: چنانچه

## د نفلو فضيلت

1. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا چه دوه رکعاته نفل ادا کړل چه په هغے کښي ئے د خپل زړه سره څه خبره اونکړه نو د هغه مخکښني ګناهونه به اوبخښلے شي. (بخاری، کتاب الوضو، باب الوضو ثلاثاً ثلاثاً، ۷۸/۱، حدیث: ۱۵۹)

2. رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوك چه په ښه طريقه اودس اوکړي او دوه رکعاته د زړه په تَوَجُّه سره ادا کړي نو د هغه د پاره به جَنَّت واجب شي. (مسلم، کتاب الطھارۃ، باب ذکر المستحب عقب الوضوء، ص۱۱۸، حدیث: ۵۵۳)

3. خوږ مکّـي مَدَنـی آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چا چه په ښه طريقه اودس اوکړو بيا پاڅيدلو او دوه يا څلور رکعاته ئے اوکړل او د هغے رکوع و سجود ئے په خشوع سره ادا کړل بيا ئے د **اللّٰه** تعالیٰ نه بخښنه اوغوښتله نو **ربِّ** کريم به د هغه بخښنه اوکړي. (مسند احمد، بقیۃ حدیث ابی دَرْدَاء، ۱۰/۴۳۰، حدیث: ۲۷۶۱۶)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بلالِ حبشي عشق رسول

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ پاکيزه صفتونه دومره ډير دي چه په دے مختصر وخت کښي نه شي بيانيدلے، خو د هغوئي يو داسے صفت چه

بے مثله او بے مثاله دے او هغه دے عشقِ رسول، هسے خو عشقِ رسول د ټولو صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمۡ اَجۡمَعِیۡن په زړونو کښے موجود وو، خو حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به د خپل آقا په مَحبَّت او غلامي کښي دومره ډوب اوسیدلو چه د دنیا بل یو څیز سره به ئے هُم کار نه لرلو. هغوئي هر څه برداشت کولے شو خو دا ئے هیڅ کله هم نه شو برداشت کولے چه د هغه د آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شانِ اقدس کښي دِ څوك د بے ادبئ جُراءَت اوکړي، د هم دغه عشقِ کامل په وجه سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته په دنیا او آخرت کښي داسے مقام او مرتبه او وَقار ملاو شو چه د هغوئي په قسمت باندے خلق رشك [یعني رخه] کوي. دا د هغوئي د عشق کمال وو چه مشکل نه مشکل او سخت نه سخت وخت کښي به هم رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ملاقات د پاره بےقراره اوسیدلو تر دے چه د ځنکدن په وخت کښے هم هغوئي د خپل محبوب، خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملاقات ته خوشحاله وو، راځئ چه په خپلو زړونو کښي د عشقِ رَسُول را بیدارولو په نِیَّت د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د عشقِ رَسُول یوه واقعه واورو: چنانچه

## حضور سره د ملاویدو خوشحالي

کله چه د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د مرګ وخت رانزدے شو نو د هغوئي بي بي بے قراره شوه او دا ئے اووئیل: چه "وَاحُزۡنَاهُ" یعني هائے زما مصیبته! نو حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ سترګے اوغړولے او بے قرارئ سره ئے اوفرمائیل: چه "وَاطَرَبَاهُ" یعني واه زما خوشحالي! د هغوئي په ژبه چه کوم آخري کلمات وو، هغه دا وو چه **غَدًا نَلۡقَی الۡاَحِبَّةَ مُحَمَّدًا وَّحِزۡبَهُ** یعني صبا به زه خپل آقا او مولا سَیِّدُنا **مُحَمَّد** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټولو صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہم سره یو ځائے کیږم. (احیاءالعلوم، کتاب ذکر الموت، الباب

الخامس، ۲۳۱/۵)

**اے د بلالِ حبشي عاشقانو!** تاسو واوريدل چه عاشقِ صادق، سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره خومره د کامِل درجے مينه لرله چه مرګ ئے هُم په خوشحالئ قبول کړو، ځکه چه د مرګ نه پس به د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښي حاضري رانصيب کيږي، په جَنَّت کښي به مے خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او نورو صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُم اَجْمَعِیْن سره ملاقات کيږي. حضرت سَيِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپلے وينا او کردار نه دا ثابته کړه چه عشقِ رَسُول د دينِ حق اولنے شرط دے، که سفر وي او که په کور کښے وي، که د زندګي ساګانے وي او که د مرګ وخت وي غرض دا چه په هر ځائے کښي او هره معامَله کښي هغوئي د رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحَبَّت د خپل ژوند سرمايه جوړ کړے وو او عِشقِ رَسُول کښي ئے خپل ځان فنا کړے وو، هم دا وجه ده چه نن څو صدئ تيريدو نه پس هم حضرت سَيِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د عاشقانِ رَسُول د زړه سر دے او بل طرف ته مونږ د عشقِ رسول دعویٰ کونکي، مونږ که د خپل ځان باره کښے غور اوکړو، نو مونږه صرف په خُله د عشقِ رَسُول دعویٰ کوو خو کردار مو د عشقِ رَسُول نه خالي دے،

لږ سوچ اوکړئ! آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي بے وجه چا سره جنګ جګړے کوي؟ آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي چا نه د بدل اخستو موقعے لټوي؟ آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي کنزلے کوي؟ آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي د ادب او اخلاق خلاف کار کوي؟ آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي ګيره د يو مُوټي نه وړه کوي؟ آيا د عشقِ رَسُول دعويٰ کوونکي د مسلمانانو زړونه ازاروي؟ آيا د عشقِ رَسُول

دعوىٰ کوونکي د غیر مسلمو طریقے اختیاروي؟ یقینا هیڅ کله نه، بالکل نه.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے **عاشِقانِ رَسُول!** د یو ریښتوني عاشِق همیشه دا کوشش وي چه د هغه محبوب د هغه نه راضي اوسي او د هغے د پاره هغه مُختلِفے طریقے اختیاروي، هغه د خپل محبوب د هرے ورځے کارونو ته ګوري او بیا په هغے باندے عمل کوي، خپل ژوند د خپل محبوب د خوښے مطابق د تیرولو او خپل ټول کارونه د خپل محبوب د خوښے مطابق د کولو کوشش کوي او کوم یو څیز چه د محبوب نه وي خوښ هغه څیز هغه هم نه خوښوي او کوم یو څیز چه د محبوب سره نسبت لري هغه څیز د عاشِق په نظر کښې هُم ډیر ښه وي، هم دا وجه ده چه حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د آقا کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبیلے د خلقو سره بے حده مَحَبَّت کولو او د هغوئي د پاره به ئے دعاګانے هُم کولے، چنانچه

## قریشو د پاره به ئے دُعا کوله

حضرت سَیِّدُنا عُروه بِن زُبیر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دے چه د قبیله **بَنُو نَجّار** یوه صحابیه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائیلي دي: چه د **مَسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّرِیف** نه چاپیر کورونو کښې زما کور د ټولو نه اوچت وو او په هغے د پاسه به حضرت بلال رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د سحر اذان کولو، هغوئي به د شپے په آخرئ حِصّه کښې راغلو او [ زما ] د کور په چت به کښیناستلو او د سحر راختلو انتظار به ئے کولو، چه هغه [یعني سحر راختل] به ئے اولیدل نو غَزَوونے به ئے اوکړو او دا **دُعا** به ئے کوله: **اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَحْمَدُكَ وَاسْتَعِیْنُكَ عَلٰی قُرَیْشٍ اَنْ یُّقِیْمُوْا دِیْنَكَ** یعني اے **الله!** زه ستا حَمد بیانووم او د قریشو په معامَله کښې ستا نه مدد غواړم چه هغوئي ستا دین قائم کړي، او هغے نه پس به ئے اذان کولو، هغه صحابیه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: چه

قَسَم په خُدائے! چه ما ته یوه شپه هم داسے نه ده معلومه چه هغوئي به دا **دُعا** نه وي کړي. (ابو داود، کتاب الصلوۃ، باب الاذان فوق المنارۃ،۱/۲۱۹ ،حدیث ۵۱۹)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دے واقعے نه مونږ ته دوه خبرے معلومي شوے:

وړومبۍ خبره دا چه د اذان نه **مخکښے** د قُریشو د پاره **دُعا** غوښتل جائِز او د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ سُنَّت دي نو بیا اذان نه **مخکښے** د خوږ مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره **دُعا** کول یعني درود او سلام لوستل هم یقیناً جائِز بلکه د ډیر اجر او ثواب کار دے.

دویمه خبره دا چه حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ به د اذان نه **مخکښے** د خپل ځان د پاره او د حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبیلے د خلقو د پاره بے ناغه **دُعا** غوښتله. نو مونږ ته هم پکار دي چه صرف د ځان د پاره نه بلکه د ټولو مسلمانانو د پاره **دُعا** غواړو، ځکه چه د **دُعا د قبولِیَّت** په آدابو کښي دا هم دي چه کله مونږ د خپل ځان د پاره **دُعا** غواړو نو ټول اهلِ اسلام هم په هغه **دُعا** کښي شریك کړو. اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** فرمائي چه که **دُعا** غوښتونکے په خپله د عَطا قابل نه وي نو د یو بَنده په وسیله به مُراد ته اورسي یعني که دُعا غوښتونکے بخپله داسے دے چه هغه ته هیڅ ورنکړے شي نو د کوم یو نیك کس په خاطر به ئے مُراد پوره شي.

حضرت سَیِّدُنا ابو الشیخ اَصبَهاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د حضرت سَیِّدُنا ثابِت بُناني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روایت کوي: چه مونږ ته وئیلے شوي دي چه کوم کس د مسلمانانو نارینۀ او زنانۀ د پاره **دُعائے خیر** کوي نو د قیامت په ورځ چه کله هغه کس د هغوئي په **مجلسونو** تیریږي نو یو ویونکے به وائي: چه دا هغه کس دے چه په دنیا کښي به ئے ستاسو د پاره **دُعائے خیر** کوله، پس هغوئي به د هغه [کس] شفاعت کوي او د الله پاك په دربار کښي به

عرض اوکړي او ځان سره به ئے جَنَّت ته بوځي.

**اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

**وَ اسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَ لِلْمُؤْمِنِیْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِؕ** (پ٢٦، محمد: ١٩)

[مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او اے **محبوب**! د خپلو خاصو او عامو مسلمانانو نارینؤ او زنانؤ د ګناهونو بخښینه اوغواړه.

حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو کس نه **اللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِیْ** (یعني اے **اللّٰه** ما اوبخښے). واوریدل نو ورته ئے اوفرمائیل: که تا ټول مسلمانان په **دُعا** کښې شامل کړي وے نو ستا **دُعا** به قبوله شوي وے. (رد لمختار، کتاب الصلوة، باب صفة الصلوة، آداب الصلوة، مطب: في الدعاء بغیر العربیه، ۲۸۶/۲)

اے د صحابۂ کرامو عاشقانو! مونږ ته هم پکار دي چه په خپله **دُعا** کښې خپل ټول مسلمانان ورونړه او دوستان بالخصوص خپل مور او پلار او خپل اُستاذان ضرور یادوو، یاد ساتئ!

* **دُعا** د دنیا او د آخرت د ډیرو ښیګړو حاصلولو ذریعه ده.

* دعا د **اللّٰه** تعالیٰ نه د مُناجاتو کولو [یعني د خپلو حاجاتو غوښتلو]، د هغه د نزدیکت حاصلولو، او د دُنیا او آخرت د مصیبتونو او مشکلاتو حل کیدو ډیره آسانه او مُجَرَّبه ذریعه ده. * **دُعا** یو بهترین عبادت او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّتِ مبارکه ده.

* **دُعا** د ګنهګارانو بندګانو په حق کښې د **اللّٰه** تعالیٰ له طرفه یو لوئ نعمت او سعادت دے.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# د نیك كار ترغیب

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** په خپلو زړونو کښې د عشقِ رَسُول، عِشقِ صحابه و اولیاء شمع روښانه کولو د پاره، ګناهونو نه نفرت او د ایمان د حفاظت جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** سره تړون اوکړئ، خپل څه نه څه وخت اوباسئ او د ذیلی حلقو په مَدَني کارونو کښې ډیره ډیره حِصَّه واخلئ، د دے مَدَني کارونو د کولو په برکت به مونږه د ګناهونو نه په حفاظت کښے اوسیږو. د آخرت د پاره به مو د نیکو ذخیره جمع شی، د نیکئ دعوت ورکوونکو خوش نصیبو خلقو کښې به مونږه هم شمیرلے شو، ښه صُحبت به را نصیب شي او د نیکو کارونو کولو جذبه به حاصله کړو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** "72 نیك کارونه" د عمل جذبه زیاتولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو یوه بهترینه نُسخه ده، په نیك کار باندے عمل کوونکو نه اَمیرِ اَهلِسُنَّت ډیر زیات خوشحالیږي او د هغوئي د پاره دعاګانے کوي. نیك کار باندے د عمل کولو په برکت د خوفِ خدا او عشقِ مُصطَفیٰ لازوال دولت په لاس راځي. په هُم دے نیکو کارونو کښې یو نیك کار نمبر 43 دا دے چه: آیا تاسو (د شرعي مصلحت نه بغیر) د یو کس یا یو څو کسانو سره ذاتي دوستي جوړه کړي ده یا مو ټولو سره **یو شان تعلقات** ساتلي دي؟ (ذاتي دوستي او ډلے [یعني ګروپ] د تنظِیمي کارونو په ترقئ کښے رُکاوټ جوړیږي)

یاد ساتئ! صرف یو څو کسانو سره دوستي کول او صرف هغوئي سره ناسته ولاړه د خلقو په ذهن کښې د قسم قسم وسوسو پیدا کیدو باعث جوړیدے شي او بالخصوص د **دعوتِ اسلامي** د ذمه دارانو د پاره دا عمل په تنظیمي کارونو کښې یو ډیر غټ رکاوټ جوړیږي. د دے په وجه بعضے وخت غیبت، تُهمت او بدګمانو په شان باطني ګناهونو

کښې د اخته کیدو امکان وي، چه د هغے په وجه نیکۍ ضائع کیدے شي او نامۀ اعمال د ګناهونو نه ډکیدے شي، لِـهذا یو څو مخصوصو کسانو سره د تعلقاتو ساتلو په ځائے ټولو سره یو شان سلوك کوئ. که چرے یو خوش قسمته کس د **اللّٰه** پاك د رضا د پاره چا سره دوستي اوکړي، د علم دین زده کولو د پاره چا سره دوستي اوکړي، په قافله کښې سفر وغیره د پاره چا سره دوستي اوکړي، په چا انفرادي کوشش اوکړي نو دا جدا خبره ده.

راځئ چه په نیکو کارونو باندے د عمل کولو جذبه حاصلولو د پاره یو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## ښکلے شین باغ

د یو اسلامي ورور بیان دے: چه 16 جنوري 2013 کښې ما مرحوم رُکنِ شُوریٰ حاجي زم زم عَطّاري رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ په خوب کښې اولیدو. څه ګورم چه هغوئي په یو ښکلي باغ کښې ګُلونو نه جوړ شوي سټیج باندے ناست دے او څه لیکلو کښې مصروف وي. ما ترینه تپوس اوکړو چه تاسو څه لیکئ؟ هغوئي اوفرمائیل: ځویه! د خپلو اعمالو جائزه اخلم. ما ترینه تپوس اوکړو: چه تاسو ته د دنیا نه رخصتیدو نه پس دا مقام او مرتبه څنګه ملاو شوه او دا ښائسته باغ د چا دے؟ هغوئي اوفرمائیل: چه ما ته دا مقام او مرتبه په نیکو کارونو باندے د عمل کولو په وجه ملاو شوي ده او دا باغ ما ته په نیکو کارونو باندے د عمل کولو په وجه د **اللّٰه** تعالیٰ له طرفه په اِنعام کښې ملاو شوے دے. بیا ئے ارشاد اوفرمائیلو: چه کاش زما د پیر ( شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ ) هر یو مُرید په 72 نیکو کارونو باندے عمل کوونکے جوړ شي. بیا ئے ما ته هم په نیکو

کارونو باندے د عمل کولو ترغیب راکړو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د عِشقِ رَسُول واقعات اوریدل، ایمان راوړلو او د غلامئ نه ازادیدو نه پس عاشِقِ بے مثال حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپل ژوند هغه ښکلے ورځے شپے د سرکارِ عالي وقَار مَدَني تاجدَار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې تیرے کړے، یقیناً حقیقي عاشق چه د خپل **محبوب** دیدار اونکړي نو هغه د خپل **محبوب** د دِیدار د پاره بے قراره اوسي، هم دا وجه وه چه کله حضور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دنیا نه ظاهري پرده اوکړه نو د حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ حالت بدل شو، هغوئي به د مدینے منورے په کوڅو کښې ګرځیدلو او دا به ئے وئیل: چه اے خلقو! تاسو که چرته **رسول الله** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لیدلے وي نو ماته ئے هم اوښائے یا ما ته د هغوئي پته راکړئ. په هم دے غم کښے هغوئي د مدینے مُنَـوَّرے نه هجرت اوکړو او شام ته لاړو.

کله چه حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ مدینے مُنَـوَّرے نه مُلکِ شام ته هجرت اوکړو او د شام په علاقه "دَارَیَّـا" کښې ئے سکونت اختیار کړو. نو یوه شپه د هغوئي په خوب کښے د **الله** تعالیٰ **محبوب** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو او ارشاد ئے ورته اوفرمائیلو چه اے بلاله! دا څنګه بے وفائي ده، آیا تر اوسه لا هغه وخت نه دے راغلے چه ته زما زیارت د پاره مدینے ته راشے. عاشِقِ بے مثال حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د غم او یَرے په حالت کښې د خوبه رابیدار شو ، په سورلئ سور شولو او د مدینے مُنَـوَّرے په طرف روان شو. کله چه د مدینے مُنَـوَّرے نُوراني او ښائسته فضا کښې ور داخل شو نو بے تابئ

سره د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مزارِ پُرانوار ته حاضر شو، سترګو نه ئے اوښکے روانے شوے او خپل مخ ئے د مزارِ پُرآنوار مبارکے خاورے ته اولګولو، د ګلشنِ رسالت دوه خوشبُودار ګلونه حضراتِ حَسَنَینِ کرِیمَین (یعني حضرت امام حَسن او حضرت امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا) هم هلته تشریف راوړلو نو حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغه دواړه شهزادګان خپلے غاړے ته راټینګ کړل او ډیره مینه ئے ورسره اوکړه. شهزادګانو فرمائش اوکړو چه: اے بلال! مونږ ستاسو د هم هغه اذان اوریدو خواهش لرو کوم به چه تاسو د سحر په وخت کښي زمونږ د خوږ نیکه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حیاتِ طَیِّبه کښي کولو.

حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مسجدِ نبوي شریف د **چَت** هغه حصّے ته تشریف یوړلو، په کوم ځائے به چه هغوئي د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري حیاتِ طَیِّبه په دوران کښي اذان کولو. چه حضرت سَیِّدُنا بلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ''اَللّٰہُ اَکْبَرُ اَللّٰہُ اَکْبَرُ'' نه اذان شروع کړو نو د مدینے مُنَوَّرے خلق بے تابه شو، کله چه هغوئي د **اَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ** کلمات اووئیل نو د خلقو بے تابي دومره زیاته شوه چه هر طرف ته ژړاګانے شروع شوے، کله چه ''**اَشْھَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰہ**'' ته اورسیدو نو خلق د خپل ځان نه بے خبره شو، او د یو بل نه ئے تپوسونه شروع کړل: چه آیا رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مزارِ پُرآنوار نه بهر تشریف راوړے دے؟

د حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري پرده کولو نه پس د مدینے خلقو هیڅ کله هم دومره نه وو ژړلي، څومره ئے چه په هغه ورځ اوژړل.

**اے عاشقانِ رَسُول!** دا حقیقت دے چه څوك په عشقِ رَسُول کښي ژاړي، هغه په دنیا

او آخرت کښې کامیاب دے، چه حضرت سَیِّدُنا بلالِ حَبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل ټول ژوند د **الله** تعالیٰ د **محبوب** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عشق او **مَحَبَّت** کښې تیر کړو نو **ربّ** کریم هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته په دنیا او آخرت کښې اوچت مقام او مرتبه ورکړه، تر قیامته پورے راتلونکو خلقو په زړونو کښې ئے د هغوئي **مَحَبَّت** پیدا کړو او حضور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي داسے فضیلتونه او مرتبے بیان کړې چه څوك ئے اولولي یا ئے واوري نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره ئے **مَحَبَّت** نور هُم زیات شي. راځئ چه واورو چه د خوږ آقا، مکّی مَدَنی مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګران او نازولي صحابي حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دنیا کښې څنګه مقام او مرتبه وه، او د **الله** پاك په رحمت او د مصطَفٰے کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر به په آخرت کښې په هغوئي باندے څنګه نوازشات کیږي. راځئ چه د هغے مُتَعَلِّق دوه فرامینِ مصطَفٰے واورو: چنانچه

## شانِ بِلال بمطابِقِ فرمانِ مُصطَفیٰ

1. زمونږه د غریبانو آقا، مکّی مَدَنی مصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ځل د حضرت بلال رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ طرف ته اشاره اوکړه او اوئے فرمائیل: [یعني دے به] د قیامت په ورځ په جنَّتي اوښه باندے سور وي او اذان به وائي او کله چه د ''اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله'' کلمات وائي نو ټول انبیاءِ کرام او د هغوئي اُمَّتیان به بلال وِیني. د انبیاء او شهیدانو نه پس به ټولو نه مخکښې بلالِ حبشي ته جَنَّتي حُلَّه (یعني جنَّتي لباس) ور اغوستلے کیږي. (ابن عساکر، رقم: ۹۷۴، بلال بن رباح، ۴۵۹/۱۰، حدیث: ۲۶۵۵، ملتقطاً)

2. حضور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: چه د قیامت په ورځ به بلال په داسے اوښه باندے سور راځي چه د هغے زِین به په سرو زرو او یاقوتو باندے ښائسته

کړے شوے وي، د هغوئي په لاس کښي به جنډه وي، ټول مُـؤَذِّنِين به هغوئي پسے شاته شاته [را روان] وي او دغسے به د بلال په قيادت کښي هغه قافِله جَنَّت ته داخله شي، تر دے چه هغه به هُم جَنَّت ته داخل شي چا چه صرف څلويښت ورځے د **الله** پاك د رضا د پاره اذانونه کړي وي. (ابن عساکر، رقم:۹۷۴، بلال بن رباح، ۴۶۰/۱۰، حديث: ۲۶۵۷)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت سَیِّدُنا بلالِ حبشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ يو ډير ښکلے صفت دا هُم وو چه هغوئي اذان کولو. اذان کول ډير ښکلے عمل دے. مونږ ته هم پکار دي چه د الله تعالیٰ د رضا د پاره او د ثواب د پاره چه کله موقع ملاويږي نو دا سعادت هُم حاصلوو.

په حديث شريف کښي راغلي دي چه: **جِنُ و اِنْس** [يعني پيريان او انسانان] او چه کوم يو څيز هُم د مُـؤَذِّن اذان اوري، هغوئي به د قيامت په ورځ د هغے ګواهي ورکوي.

(بخاری، کتاب الاذان، باب رفع الصوت بالنداء، حديث:۶۰۹، ۲۲۲/۱)

هم دغسے اِمامت کول هم يو ډير لوئ سعادت دے. **رَسُولُ الله** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چه د قيامت په ورځ به درے کسان د مشکو په ختهانو باندے وي، نه خو به دوئي غمګين وي او نه به په ويره کښے ګير وي، حالانکه خلق به په ويره کښے وي، په هغوئي کښے يو هغه کس هم دے چا چه د قران کريم تعليم حاصل کړو، بيا ئے د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره د ثواب په اُمِّيد د کوم قوم اِمامت اوکړو. (معجم الکبیر، ۳۳۱/۱۲، حديث:۱۳۵۸۴) **الله** تعالیٰ دِ مونږه ته د دے دواړو سعادتونو حاصلولو توفيق را کړي.

**اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې مے خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "مِسواك ښکلے سُنَّت دے" د څوارلسو حُروفو په نِسبت د مِسواك 14 مَدَني ګلونه

۞ **مِسواك** د پیلو، زیتون یا د شنډئ وغیره د تریخ لرګي پکار دے. ۞ د **مِسواك** پیړ والے د کچے ګوتے همره پکار دے. ۞ **مِسواك** د یو لویشت نه زیات اُوګد نه دے پکار، ګنې شیطان پرے کښیني ۞ د دے ریشے [یعني برش] نرم پکار دے سختے ریشے د غاښونو او ورو په مینځ کښې د "چاؤ" [GAP] پیدا کیدو باعث جوړیږي. ۞ **مِسواك** که تازه وي خو ډیره ښه ده، او که [تازه] نه وي نو لږ ساعت ئے د اوبو په

ګِلاس کښې کيږدئ چه نرم شي ۞ د طِبيبانو مشوره ده چه د **مِسواك** ريشے هره ورځ پريك کوئ.

## د مِسواك کولو طريقه

۞ د غاښونو په سرو کښې **مِسواک** کوئ ۞ چه کله هم **مِسواک** کوئ کم از کم درے ځله ئے کوئ، هر ځله ئے وينځئ ۞ **مِسواک** په ښي لاس کښې داسے نيسئ چه کچئ ګوته ترے لاندے، د مينځ درے ګوتے پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئے په سر [د برش سره] وي ۞ **مخکښې** د ښي طرف په پاس غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف په پاس غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندے غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف په لاندے غاښونو کښې **مِسواک** کوئ ۞ د مِسواک کولو په وخت کښې **مِسواک** په موټې کښې نيولو سره د بواسيرو [د مرض پيدا] کيدو خطره ده ۞ **مِسواک** د اودس سُنّتِ قبلِيه دے (يعني مِسواك د اوداسه نه مخکښې کول سُنَّت دي، په اوداسه کښې دننه سُنَّت نه دي، لهٰذا د اوداسه شروع کولو نه مخکښې مِسواك کوئ، بيا درے درے ځله لاسونه وِينځئ او د قاعدے مطابق اودس کوئ) البَتَّه سُنَّتِ مُؤَکَّده هُم هغه وخت دے چه کله په خُله کښې بدبوئي وي. (ماخوذ از فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج۱ ص ۸۳۷)

## د ښځو د پاره مِسواك کول د بي بي عائِشه سُنَّت دي

۞ "ملفُوظات اَعلیٰ حضرت" کښې دي: "د ښځو د پاره **مِسواك** کول د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا **سُنَّت** دي خو که هغوئي ئے اونکړي نو باك

نشته. د هغوئي غاښونه او ورئ د سرو په نِسبت کمزورې وي، (د هغوئي د پاره) دنداسه کول کافي دي." (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص۳۵۷)

## چه کله مِسواك د استعمال قابل پاتے نه شي

۞ **مِسواک** چه کله د استعمال قابِل پاتے نه شي نو غورزَوئ ئے مه، ځکه چه دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، چرته ئے په اِحتیاط سره کیږدئ یا ئے خخ کړئ، یا څه کانړے وغیره وزن ورپورے اوتړئ او په سمندر کښې ئے ډوب کړئ. (د تفصیلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوے بهارِشریعت جِلد اوّل د صفحه ۲۹٤ نه **۲۹۵** پورے اولولئ)

## آیا تاسو ته مِسواك کول زده دي؟

۞ کیدے شي چه ستاسو په زړه کښې دا خیال راشي چه زه خو د کلونو نه **مِسواك** کووم خو زما غاښونه او خیټه دواړه خراب دي! [نو امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي چه] زما ساده اسلامي وروره! په دے کښې د **مِسواك** نه بلکه ستا خپل قصور دے. زه (سگِ مدینه عُفِيَ عَنهُ) په دے نتیجه رسیدلے یم چه نن به شاید په زرګاؤ خلقو کښې یو نیم کس داسے وي چه هغه به د صحیح اُصولو مطابق **مِسواك** استعمالوي، مونږه اکثر زر زر په غاښونو پورے **مسواك** اُومږو او اودس اوکړو او روان شو یعني مطلب دا چه مونږه **مِسواك** نه کوو بلکه "د **مِسواك** رسم" ادا کوو!

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے اور زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه ﷺ دِيدار کوي او قَبْر کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدينه ﷺ به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه ﷺ فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

خوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم حیران شو چه دا خوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[3] راځئ چه مونږ ئے هُم په شریکه اووائیو.

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چه د

---

1...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵

ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد